د ستراتیژیکو او سیمه‌ییزو څېړنو مرکز

# تحلیل هفته

**ګڼه:** 446

(17 – 23 سنبله 1403 هـ ش)

## د امربالمعروف او نهی عن المنکر قانون حقوقي ارزونه

دا نشریه د افغانستان او سیمې د مهمو سیاسي، امنیتي، اقتصادي او ټولنیزو پېښو د تحلیل اوونیزه خپرونه ده چې د ستراتیژیکو او سیمه‌ییزو څېړنو مرکز له لوري په پښتو، دري، انګلیسي او عربي ژبو چمتو کېږي او خپرېږي.

## په دې ګڼه کې لولئ:

- د امربالمعروف او نهی عن المنکر قانون حقوقي ارزونه ........................................... 3
- د قانون ښېګڼې ............................................................................... 4
- له حقوقي پلوه د قانون نیمګړتیاوې ................................................................. 6
- پایله ................................................................................................... 10
- وړاندیزونه ............................................................................................ 11

Center for Strategic and Regional Studies (CSRS)

## د امربالمعروف او نهی عن المنکر قانون حقوقي ارزونه

### سریزه

انسان یو ټولنیز موجود دی او اړ دی چې له نورو انسانانو سره یوځای ژوند وکړي، خو انسانان په فطري لحاظ ځان غوښتونکي دي، د مصالحو په ترلاسه کولو او د مفاسدو په لمنځه وړلو کې یو له بل سره په ټکر کې راځي او انساني ټولنې د دغه ټکر د لمنځه وړلو او د ټولنیزو سلوکو د تنظیم په موخه بېلابېل قوانین رامنځته کوي چې د ټولنې اکثره برخه همدغه ډول قوانین جوړوي، خو په اسلامي هېوادونو کې د ټولنیزو سلوکو د تنظیم اړوند قوانینو ترڅنګ د فردي سلوکو د تنظیم په موخه هم قوانین جوړېدای شي، ځکه د اسلامي شریعت یو مهمه دنده په نېکیو امر او له بدیو څخه منعه ده او دا کار د انسان فردي سلوک تنظیموي او د انساني فردي تربیې پور اړه لري او اسلامي حکومت کولای شي دغه چاره د یو قانون په چوکاټ کې تنظیم کړي، چې اسلامي امارت هم همدغې مسؤلیت ته په کتو د امربالمعروف او نهی عن المنکر قانون جوړ کړی دی. همدارنګه له دیني پلوه د اسماني شریعتونو قواعد په دوه ډوله ویشل شوي دي:

ثابت او قطعي قواعد او اجتهادي او بدلېدونکي قواعد.

قطعي قواعد: هغه دي چې په قران کریم او نبوي سنتو کې پرې ښکاره دلیلونه موجود وي او د امت فقهاوو پرې اتفاق کړی وي. د بشریت لپاره یې د نېکمرغۍ او عدالت سمه لاره ښودلې وي او انسانان له بې لارې کېدلو او هلاکت څخه ژغوري.

اجتهادي قواعد: دغه قواعد په مجموع کې تغییر منونکي احکام دي چې د بشري ټولنو بېلابېلو حالاتو او د وخت له بدلون سره سم د شته ستونزو لپاره قانوني حللارې وړاندې کوي. یعنې اسلامي شریعت هم په اجتهادي مسایلو کې د وضعي قوانینو د جوړېدو اجازه ورکوي، خو په دې شرط چې د لومړني ډول یعنې ثابت قواعدو سره په ټکر کې نه وي.[1]

د سلسله مراتبو له اړخه په افغانستان کې قوانین پر اساسي قانون او عادي قوانینو ویشل کېږي. له حقوقي اړخه د ارګانیکي قوانینو اصطلاح هم شته، خو دغه ډول قوانین په افغانستان کې د کارونې وړ نه دي. د عادي قوانینو یا په کل کې د تقنیني سندونو د جوړولو لپاره په تېر جمهوري نظام کې د تقنیني سندونو د پړاوونو د تېرولو قانون په نوم یو ځانګړی قانون رامنځته شوی و چې نهه څپرکي او یوشپېته مادې یې درلودې او د همدغه قانون په رڼا کې یو نوی تقنیني سند رامنځته کېدای شو. د اسلامي امارت په راتګ سره د تقنیني سندونو د جوړولو په موخه د یو فرمان له لارې ځانګړي پړاوونه رامنځته شوي دي چې له دې معلومېږي چې د جمهوریت د وخت قانون پرې لغوه شوی دی. د اسلامي امارت د نویو پړاوونو پر بنسټ لومړی باید اړونده

[1] د حقوقو مبادي، دکتور شیر علي ظریفي، اصلاح افکار کابل، ۱۳۹۲ لمریز کال، صص ۷ _ ۲٦

اداره د قانون مسوده تیاره کړي، عدلیې وزارت یې فقهي تخریج وکړي، بیا ځانګړی کمېسیون د عدلیې وزارت فقهي تخریج وګوري چې دا تخریج د حنفي فقهې په رڼا کې په سم ډول ترسره شوی او که نه؟ او له هغې وروسته کندهار ته ځي تر څو یې امیرالمؤمنین توشیح کړي. د امر بالمعروف او نهی عن المنکر نوی قانون هم د همدغو پړاوونو له تېرولو وروسته د یوې مقدمې، څلورو فصلونو او ۳۵ مادو په چوکاټ کې د ۱۴۰۳ هـ.ل. کال د زمري میاشتې پر لسمه نېټه د عدلیې وزارت د رسمي جریدې په ۱۴۵۲مه ګڼه کې خپور شوی او د انفاذ وړ دی.

په دې تحلیلي لیکنه کې همدغه قانون له حقوقي پلوه تحلیلوو او ارزونه یې ترسره کوو چې ایا له حقوقي پلوه دغه قانون سم ترتیب شوی او که څه ستونزې لري.

## د قانون ښېګڼې

د امربالمعروف او نهی عن المنکر قانون ځینې ښېګڼې لري چې په لاندې ډول ورته اشاره کوو:

۱- لومړی او تر ټولو مهمه ښېګڼه خپله د قانون موجودیت دی، ځکه د اسلامي امارت په تېره دوره کې د امر بالمعروف او نهی عن المنکر کارکوونکي ازاد پرېښودل شوي وو او د هغوی د کنټرول لپاره کوم قانون او چوکاټ موجود نه و او له همدې امله یادې اداري ځینې داسې کارونه وکړل چې د خلکو د نفرت او کینې لامل شو. د اسلامي امارت د بیاځلي واکمنۍ وروسته د امربالمعروف او نهی عن المنکر دغه قانون رامنځته کېدل د امر بالمعروف او نهی عن المنکر وزارت لپاره یو چوکاټ او حدود ټاکي او د هغوی کارکوونکي له خپلسرۍ او ازادۍ څخه ژغوري او عام وګړي هم کولای شي چې په قانون کې ذکر شوي موارد وګوري او د هغې سره ځان عیار کړي، ځکه له دې مخکې عام وګړي نه پوهېدل چې له کومو شیانو څخه دوی باید ځان وساتي او کوم شیان د تعزیر لامل کېږي، خو د دې قانون په رامنځته کېدو سره عام وګړي د امربالمعروف او نهی عن المنکر په چوکاټ پوه شول او د محتسبینو د ازادۍ دایره یې هم وپېژنده. لنډه دا چې په خپل ذات کې د قانون رامنځته کېدل یوه ښېګڼه او نېک کار دی.

**۲- فقهي تخریج:** د دې قانون دویمه ښېګڼه د قانون په داخل کې د فقهي تخریج راوړل دي. دا لومړی ځل دی چې د قانون د موادو د تشریح او استناد لپاره خپله د قانون په داخل کې د حنفي فقهې په رڼا کې فقهي تخریج ترسره کېږي او دا دوه ګټې لري: یو دا چې عام وګړي په دې قانع شي چې دا قانون اسلامي دی او د شک په صورت کې هر وخت کولای شي چې اړونده ذکر شویو اسنادو ته مراجعه وکړي او دویمه ګټه یې د قانون دیني رنګ دی چې دا خپله بیا د نظام په اسلامي او شرعي والي دلالت کوي او دا موضوع دا جوتوي چې لوړ حاکم الله دی او انسانان یوازې د الله د حاکمیت تر چتر لاندې قوانین جوړولی شي. دا بېله خبره

Center for Strategic and Regional Studies (CSRS)

ده چې دا فقهي تخريج ضعيف دی او که قوي چې په هغې به وروسته بحث وکړو، خو دلته زموږ بحث په خپل ذات کې د فقهي تخريج ترسره کول دي او دا د قانون يوه ښېګڼه ده.

**۳- د قانون د ساختار او چوکاټ رعايت:** د دې قانون بله ښېګڼه دا ده چې د مخکنيو قوانينو ساختار او چوکاټ يې نه دی حذف کړی، بلکې د هماغه چوکاټ په ساتلو او رعايت سره يې دغه قانون تنظيم کړی دی او دا د دې ښکارندوي کوي چې دوی پخوانی ساختار منلی او د هغې په سموالي قانع شوي چې دا خپله ښه خبره ده، يعنې په دې قانون کې په مقدمه کې د قانون مبنی، اهداف، اصطلاحات، د قانون د تطبيق ساحه، د قانون د اجراء مراجع او نور ذکر شوي او بيا ورپسې په منظم ډول فصل بندي شوې او بيا هر فصل په مادو او فقرو ويشل شوی دی، چې د قانون دا ساختار له حقوقي پلوه درست او د اسلامي امارت په دوره کې دا د دې قانون ښېګڼه ګڼلی شو.

**۴- ښځې او نر دواړه کولای شي چې د محتسب دنده اجراء کړي:** دا د دې قانون بله ښېګڼه ده چې په خپله نهمه ماده کې کله چې د محتسب لپاره شرطونه راوړي، نو دا دنده يې يوازې نر ته ځانګړې کړې نه ده، يعنې ښځې هم کولای شي چې د امربالمعروف او نهی عن المنکر د وزارت په چوکاټ کې دنده ترسره کړي او د دې قانون په رڼا کې د امربالمعروف او نهی عن المنکر دنده ترسره کړي.

**۵- د محتسب لپاره د اصولو ټاکل:** د محتسب ازاد نه پرېښودل او د هغې لپاره څه اصول ټاکل د دې قانون بله ښېګڼه ده او دا اصول يې هم ډېر دقيق او پرځای دي، د دې قانون په لسمه ماده کې دغه اصول ذکر شوي چې ځينې يې دلته رانقلوو:

۱- د امربالمعروف او نهی عن المنکر په وخت کې د هر چا د شخصيت او انساني کرامت رعايتول او ورسره ښه سلوک کول.

۲- له هغه منکر څخه منع کول چې په سترګو يې ويني.

۳- له هغه منکر څخه منع کول چې په غوږونو يې اوري.

۴- امربالمعروف او نهی عن المنکر به د پټو ګناهونو تجسس نه کوي او د خلکو کورونو ته به نه داخلېږي، مګر دا چې اسلامي شريعت اجازه ورکړې وي.

۵- په امربالمعروف او نهی عن المنکر کې به له عدالت څخه کار اخلي او تبعيض به نه کوي.

٦- په نرمۍ سره وعظ او نصيحت کول.

۷- په لاس منعه په هغه صورت کې ده چې د لوې مفسدې د رامنځته کېدو ويره نه وي.

Center for Strategic and Regional Studies (CSRS)

**٦- د دینداریِ تېولنې د رامنځته کولو او د امربالمعروف او نهی عن المنکر د فرضیې اداء کول:** د دې قانون بله ښېګڼه دا ده چې د دې له لارې کېدای شي یو داسې ټولنه رامنځته شي چې وګړي يې له دين سره تړلي وي، د اسلامي شعايرو سپکاوی نه کوي، د عورت او ستر په رعايت باندې عادت شي، فحاشۍ او په معاملاتو کې ناوړه اعمال ترسره نه کړي او داسې ټولنه د اسلامي نظام د ثبات لامل کېږي او دويمه موضوع دا چې امربالمعروف او نهی عن المنکر یو ديني فريضه ده او د دې قانون له لارې دغه فرضيه اداء کېدلای شي.

## له حقوقي پلوه د قانون نيمګړتياوې

دغه قانون له حقوقي او تخنيکي پلوه ځينې نيمګړتياوې او ستونزې لري چې دلته ترې يادونه کوو:

١- لومړنۍ ستونزه دا ده چې د دې قانون مواد ډېر عام راوړل شوي دي، سره له دې چې ځينې مادې استثناءاتو او همدارنګه ځينو تعريفونو او قيوداتو ته اړتيا لري، خو مقنن په دې قانون کې دا کار نه دی کړی، د بېلګې په ډول: د دې قانون په درويشتمه ماده کې راځي چې ذميان او مستأمنين د منکراتو له ښکاره اجراء کولو څخه بايد منعه شي، خو دلته د ذميانو او مستأمنينو اړوند منکرات عام راوړل شي دي او له دې معلومېږي چې مستأمنين او ذميان بايد په دې قانون کې راغلي منکراتو څخه منعه شي، مثلاً: د ږيرې خرېل، د لمانځه پرېښول، په جماعت سره د لمانځه نه اداء کول، د روژې خوړل او نور... سره له دې چې ذميان او مستأمين د خپلو ديني مراسمو په اجراء کې ازاد دي او د لته بايد دوی د ځينو علني منکراتو څخه منعه شي، خو هغه بايد قانون واضحه بيان کړي، که د ټولو منکراتو خبره ورته راجع کړو، نو بيا د دوی د ځينې حقوق په کې تلف کېږي.

٢- بله ستونزه دا ده چې د امربالمعروف او نهی عن المنکر دغه قانون په افغانستان کې اوسيدونکو هندوانو او سيکانو باندې او ټولو مستأمينينو او ذميانو باندې هم د تطبيق وړ دی، ځکه د دغه قانون په څلورمه ماده کې راغلي: (دغه قانون په ټولو ادارو، عمومي اماکنو او پر هغو اشخاصو باندې چې د افغانستان په قلمرو کې استوګنه لري، تطبيقيږي.) د دې مادې پر بنسټ هندوان او سيکان هم په افغانستان کې استوګنه لري، نو دغه قانون پر هغوی هم د تطبيق وړ دی، يعنې د افغانستان هندوان او سيکان هم بايد لمونځ وکړي، روژه ونيسي، ږيرې تر قبضې پورې پرېږدي، ويښتان د اسلامي شريعت مطابق جوړ کړي، هغه ورځې چې په شريعت کې اصل ونلري هغه بايد و نه نمانځي، نېکټايي استعمال نه کړي او داسې نور اعمال هم ترسره نه کړي چې دې قانون کې راغلي او که دا کارونه ترسره کړي، نو د محتسب له لوري تعزيريږي. سره له دې چې په شريعت کې ذمي او مستأمن د خپلو ديني او مذهبي مراسمو په اجراء کې ازاد دي او د حنفي مذهب قاعده ده چې (کفار د شريعت په فروعو مکلف نه دي).

Center for Strategic and Regional Studies (CSRS)

د دې مادې د اصلاح لپاره حللاره دا ده چې ذمیان او مستأمنین د خپلو دیني مراسمو په اجراء کې ازاد پرېښودل شي او یوازې هغه علني منکراتو څخه په بازار او عامه ځایونو کې منعه شي چې له هغې عام فساد رامنځته کېږي.

۳- د دغه قانون په لسمه ماد کې د محتسب او احتساب اداب او اصول یاد شوي دي، خو په حقوقي چوکاټ کې اداب او اصول دوه جلا مفاهیم دي، یعنې له ادابو سرغړونکی بې ادب ګڼل کېږي، خو کوم قضایي او جزایي مسؤلیت ورته نه راجع کېږي او له اصولو سرغړونکي ته قضایي او جزایي مسؤلیت راجع کیږي، یعنې د ادابو کلمه په قانون کې راوړل له حقوقي پلوه درست نه دی، نو پر همدې بنسټ باید په دې ماده کې یوازې د اصولو او قواعدو څخه یادونه شوې وی، ځکه دا قانون دی او کوم اخلاقي او ادبي کتاب نه دی.

د دې مادې د اصلاح لپاره حللاره دا ده چې یوازې د محتسب او احتساب اصول او قواعد ذکر شي او ادابو لفظ ترې حذف شي.

۴- د دغه قانون بله ستونزه او خلا دا ده چې، که د دغه قانون په لسمه ماده کې د محتسب لپاره راغلي یوولس اصول رعایت نشي، نو بیا به څه کیږي؟ په دې اړه قانون خلا لري او سکوت یې اختیار کړی دی. له حقوقي پلوه کله چې د یو شخص یا اداري لپاره په قانون کې شرایط او اصول ذکر کېږي، نو د هغې د نه رعایت لپاره باید ورته تأدیبات او مجازات هم وړاندې شي. په دې ماده کې د محتسب لپاره اصول ذکر شوي چې باید رعایت یې کړي، خو که محتسب دا رعایت نه کړي، نو د هغه لپاره په قانون کې کوم مجازات یا تأدیبات نه دي ذکر شوي چې دا له یوې خوا د قانون خلا په نخښه کوي او له بلې خوا محتسبین ازاد پرېښودل شوي او د دغه اصولو په نه رعایت کې د هیڅ ډار او مؤاخذې احساس نه کوي.

د دې ستونزې حللاره دا ده چې یا په همدې ماده کې او یا هم د تعزیر په ماده کې لیکل شوي وی چې: که محتسب په دې قانون کې ذکر شوي اصول او قواعد رعایت نه کړي، نو لاندې تأدیبات ورته راجع کېږي، توصیه، اخطاریه، کسر معاش، د دندې تبدیلي او که بیا یې هم رعایت نه کړي، نو وزارت ته به معرفي کېږي او کېدای شي منفک هم شي.

۵- د دې قانون دیارلسمه ماده د ښځو د حجاب اړوند ده، په دې ماده کې هم ستونزه شته. لومړی دا چې د دې مادې له دویمې فقرې (د فتنې د وېرې له کبله د ښځې مخ پټول ضروري دي) داسې معلومېږي چې مقنن د ښځې مخ عورت نه ګڼي، خو د فتنې د وېرې له امله د ښځې مخ پټول ضروري ګڼي، نو که دلته د مخ پټولو اساس فتنه وګرځو کله ځینې حنفي فقهاء چې هم باور لري، نو بیا خو د ۷۰ کلنو او یا هم ۹۰ کلنو زړو ښځو د مخ ښکاره کولو له امله د فتنې هېڅ ویره نشته، نو بیا خو باید مقنن دا ماده قید کړې وی، یعنې ویلي یې وی چې ځوانی ښځې باید له نامحرمو مخ پټ کړي، ځکه د فتنې ویره ده، خو مقنن دلته سل کلنه ښځه هم په دې مکلفه کړې چې باید مخ پټ کړي.



Center for Strategic and Regional Studies (CSRS)

د دې مادې د اصلاح حللاره دا ده چې په دې کې استثناء ځای پر ځای شي، یعني ولیکل شي چې، د فتنې له ویرې د ښځو مخ پټول ضروري دي پرته له هغو ښځو چې عمر يې له پنځوسو یا شپېتو کالونو پورته وي او د فتنې د رامنځته کېدو ویره په کې موجوده نه وي.

٦- د دې قانون د دیارلسمې مادې اوومه فقره هم په مطلق ډول پراخه او وسیع پرېښودل شوې، دا فقره وايي: (د بالغو اجنبي نارینه وو کتل د ښځو بدن او مخ ته او د بالغو ښځو کتل اجنبي نارینه وو ته حرام دي.) دا فقره مطلق حکم کوي، نو اوس که یو اجنبي بالغ نارینه د نکاح په موخه یوې اجنبۍ ښځې ته وګوري، نو ایا دا حرام دي؟ ایا محتسب به دا تعزیروي؟ ښه دا وه چې د نکاح په موخه کتل يې استثناء کړي وی او یا هم که ډاکټر یو ناروغې ته د تداوۍ په موخه وګوروي، نو ایا دا حرام دي او ډاکټر به تعزیرېږي؟

د دې مادې د اصلاح حللاره دا ده چې استثناء په کې راوړل شي، یعني ولیکل شي چې: بالغو اجنبي نارینه وو کتل د ښځو بدن او مخ ته او د بالغو ښځو کتل اجنبي نارینه وو ته حرام دي، مګر په هغه صورت کې چې اسلامي شریعت د یوې اړتیا له مخې ورته اجازه ورکړې وي.

٧- د دې قانون د دیارلسمې مادې اتمه فقره هم ستونزه لري، دغه فقره وايي: (که بالغه ښځه د کوم ضروري حاجت لپاره له خپله کوره ووتله، مکلفه ده چې د خپل غږ، مخ او بدن ستر وکړي.) مقنن دلته هیڅ دا پام نه دی کړی چې که یوه ښځه د حاجت لپاره له کوره وځي، نو طبیعي ده چې یا به ناروغه وي، یا به د خوراک او څښاک لپاره څه شی اخلي او یا هم د خپل بل هر ضرورت د رفع لپاره به له یو چا سره اړیکه نیسي، نو په دغسې حالت کې به ښځه ډاکټر ته خپل مرض څنګه بیانوي که پر هغې د غږ ستر لازم شي؟ هغه به دوکاندار ته څنګه وايي چې فلانکی شی راکړه که پر هغې د غږ ستر لازمي شي؟ همدارنګه که پر ښځې د مخ پټول لازم شي، نو که هغه د ضرورت ځینې شیان له دوکاندار څخه په پټ مخ واخلي او هغه کور کې وګوري چې تاریخ يې تېر دی او یا هغه په یو ډول نه یو ډول د هغې بدلولو ته اړتیا پیښه شي او هغه دوکاندار ته ورشي چې دا راته بدل کړه، نو دوکاندار به هغه څنګه پېژني چې ایا دا هماغه ښځه ده او که نه؟ مقنن دې ته ځواب نه لري چې دا خپله د قانون ستونزه څرګندوي.

٨- د دې قانون د څوارلسمې مادې په لومړیو دوه فقرو کې راځي:

(١)- د سړي عورت د نامه نه لاندې تر زنګنونو پورې او زنګون هم عورت دی.

(٢)- نارینه مکلف دی چې د دې مادې په (١) فقره کې درج حکم او د ستر اړوند نور حکمونه عملي کړي.

که د پورتنۍ مادې دویمې فقرې ته وګورو، نو له حقوقي پلوه يې ډېره لویه ستونزه رامنځته کړې ده، ځکه د دویمې فقرې په وروستۍ برخه کې وايي: او د ستر اړوند نور حکمونه عملي کړي. دا عبارت لومړی دا چې ګونګ دی، که د مقنن هدف له قانون څخه بهر د نارینه اړوند د ستر نور حکمونه وي، نو هغه باید دې قانون


Center for Strategic and Regional Studies (CSRS)

کې ځای پر ځای شوي وی او په مشخص ډول د نارینه د ستر اړوند ځایونه ښودل شوي وی او که د مقنن هدف په دې قانون کې راغلي د ستر اړوند نور حکمونه وي، نو په دې قانون کې خو د ستر اړوند نور حکمونه ښځو ته ځانګړي شوي او که پر هغې قیاس کوي، نو بیا خو باید نارینه هم د خپل غړ ستر وکړي، مخ پټ کړي او له حاجت پرته له کوره ونه وځي. لنډه دا چې د دې ماده دویمه فقره مبهمه او د څو معنی ګانو لرونکې ده چې دا د قانونګذارۍ د اصولو خلاف کار دی.

دا ماده باید داسې وی چې ولیکل شي: نارینه مکلف دي چې د دې مادې په (۱) فقره کې درج حکم او د نارینه وو د ستر اړوند نور حکمونه عملي کړي.

۹- د دې قانون اوولسمه ماده د مطبوعاتو او اطلاعاتو اړوند ده او د دې مادې په درېیمه فقره کې راځي: (د داسې مطالبو خپرول چې د ذي روح (ساه لرونکي) انځورونه په کې نه وي.) یعنې د دې فقرې پر بنسټ تلویزیونونه، ورځپاڼې، مجلې، فیسبوک، ایکس، انسټګرام او د نورو رسنیو او مطبوعاتو مسؤلین مکلف دي چې د انسانانو او نورو حیواناتو انځورونه خپاره نه کړي، ځکه هغه ذی روح دي او که دا کار وکړي، نو هغوی به تعزیریږي. ستونزه دا ده چې تلویزیونونه ولاړ په انځورونو دي، نو که تلویزیون د امیرالمؤمنین یا د کابینې د وزیرانو او د هغوی انځوریز راپورونه خپاره نه کړي، نو څه شی به کوي؟ یعنې له دې مادې معلومیږي چې تلویزیونونه، ټولنیزې رسنۍ او نورې رسنۍ باید بندې شي.

۱۰- د دې قانون د شلمې مادې په پنځمه فقره کې موټر چلوونکي مکلف شوي چې له عاقل او بالغ شرعي محرم پرته باید ښځې له یو ځای څخه بل ځای ته انتقال نه کړي. دا فقره هم په ډېر مطلق ډول لیکل شوې او هیڅ استثناء په کې په نظر کې نه ده نیول شوې، چې دا هم په ټولنه کې ځینې ستونزې رامنځته کوي، د بېلګې په ډول: یوه ښځه کونډه ده، پنځه بچیان لري او په هغې که بالغ نارینه نشته او نور محرم یې په هېواد کې نشته، نو دا ښځه به د خپلو بچیانو د خوراک او څښاک د اماده کولو او یا هم د هغوی د تداوۍ او یا هم د هغوی د روزنې په موخه ښوونځیو ته ورلو لپاره که په موټر کې له دې امله پرېښودل شي چې هغه بالغ محرم نه لري، نو دا کونډه به څه کوي؟ دویم دا چې په یو کور کې نارینه د یو ولایت په سفر تللي او پر ښځه باندې د زړه حمله راځي او باید عاجل روغتون ته انتقال شي، خو موټروان یې له دې امله نه پورته کوي چې بالغ محرم نه لري او هغه مړه کېږي، نو د دې د مرګ مسؤلیت پر چا دی؟ مقنن دا ماده ډېره کلکه او پرته له استثناء لیکلې چې یوه لویه ستونزه یې رامنځته کړې ده.

ښه به دا وي چې ولیکل شي: موټر چلوونکي باید له یو ولایت څخه بل ولایت ته او د ضروري حاجتونو پرته یوه ښځه له عاقل او بالغ شرع محرم پرته په خپل موټر کې انتقال نه کړي.

۱۱- د دوه ویشتمې مادې په شلم بند کې د کفارو سره دوستي او مرسته منع کړی شوې او دا یې منکراتو کې راوستې دي. دا فقره هم ډیره عامه او په مطلق ډول لیکل شوې ده، یعنې په مرسته کې خو دا هم راځي

چې یو کافر ته یو ګلاس اوبه ورکړي، ډوډۍ ورکړي، لاره ورته وښايي او داسې نور... او د دې مادې پر بنسټ دا هم منع شوي دي.

۱۲- د قانون په دوه ویشتمې ماده کې ۲٦ ځانګړي منکرات ذکر شوي دي او حتی د هګیو جنګول هم په کې ذکر شوي، خو د جادو، کوډو او د پیرانو او مریدانو په محفلونو کې د شرکیاتو د ترسره کېدو په اړه په کې هیڅ هم نه دي راغلي، چې نن ورځ زموږ ټولنه ورسره لاس او ګریوان ده او دا د قانون خلا ګڼلی شو.

۱۳- د قانون په څلورویشتمې ماده کې تعزیرات وړاندیز شوي دي، چې په ترتیب سره له توصیې، د الله تعالی له عذاب څخه په ویرولو، په قهرجنو الفاظو تنبه، په تلف د مال سره تعزیر، له یو ساعت څخه تر څلورویشت ساعتونو پورې حبس، له یوې ورځې څخه تر دریو ورځو پورې حبس او په اوومه فقره کې راځي: (هغه سزا چې محتسب یې مناسبه وګڼي او په محکمو پورې خاص نه وي.) په اوومه فقره کې راغلی حکم له حقوقي پلوه درست نه دی، ځکه له یوې خوا د مناسب اصطلاح په قانون کې کارول له حقوقي پلوه سم نه دي ځکه یوه موضوع به د یو شخص په اند مناسبه وي، خو د بل شخص په اند به مناسبه نه وي، یعنې د مناسب کلیمې لپاره ځانګړی تعریف نشته او دویم دا چې محتسب لاس ډېر ازاد پرېښودل شوی، یعنې محتسب که هره جزا مناسبه وګڼي هغه ورکولای شي، یعنې د یو شخص مخ تورولی شي، په خر یې سپرولی شي او داسې نورې جزاګانې هم ورکولای شي چې له حقوقي پلوه د جزا ورکوونکي واکونه ازاد پرېښودل او هغه ته محدوده نه معلومول سم کار نه دی چې متأسفانه په دې ماده کې دا کار شوی دی.

۱۴- بله ستونزه دا ده چې مقنن د اسلامي امارت پالیسي په کې په بشپړ ډول نه ده مراعت کړې، ځکه د اسلامي امارت پالیسي دا ده چې ټولې چارې به د حنفي فقهې په رڼا کې تنظیموي او کله چې بیا شرعي موضوعات راځي لکه دا قانون، نو بیا خو باید په بشپړ ډول حنفي فقهې په رڼا کې تنظیم شي، خو مقنن چې د ځینو موادو استخراج کړی، نو د نورو منابعو څخه لکه د «الفقه الاسلامي و ادلته» کتاب حواله ورکړې ده چې هغه د حنفي فقهې کتاب نه دی، بلکې هغه د فقهې مقارن ډول لیکل شوی کتاب دی چې د ټولو مذاهبو څخه په کې ګټه اخیستل شوې ده، نو ښه به دا وه چې یا په بشپړ ډول حنفي فقهې په رڼا کې لیکل شوی وی او یا دا چې د ټولو مذاهبو په رڼا کې داسې قانون لیکل شوی وی، چې د هغې عملي کول ستونزمن نه وی او د خلکو د ډېر قید لامل نه وی شوی.

**پایله**

په عمومي ډول د امربالمعروف او نهی عن المنکر لپاره د قانون رامنځته کېدل او د دغه وزارت کارونه چوکاټ بندي کول په خپل ذات کې یو نېک کار دی او دغه قانون څه ډېرې ښېګڼې هم لري، خو له حقوقي پلوه ځینې خالیګاوې، مبهم او څو معنی لرونکي الفاظ لري چې قانون یې له ستونزو سره مخامخ کړی دی.

همدارنگه دغه قانون ځینې عملي ستونزې رامنځته کوي چې د تطبیق پرمهال به هم عام وګړي او هم محتسبین ورسره مخامخ شي.

## وړاندیزونه

۱- قانون دې له حقوقي پلوه په دقیق ډول له سره وکتل شي، خالیګاوې دې ډکې او مبهمې کلیمې او ستونزې یې دې رفع او د تعدیل یوه طرحه دې چمتو کړای شي.

۲- قانون دې یو ځل بیا د حنفي فقهې په رڼا کې په دقیق ډول وکتل شي او د حنفي فقهې معتبرو کتابونو او اکثریت علماوو له نظریاتو سره دې برابر کړای شي تر څو د دې قانون عملي ستونزې حل شي.[1]

د ستراتېژيکو او سيمه‌ييزو څېړنو مرکز نادولتي، غير انتفاعي او خپلواک ارګان دی، چې په ۱۳۸۸ لمريز کال کې په کابل کې جوړ شوی. دغه مرکز د خپلو بې‌پرې او کره څېړنو له لارې، په افغانستان او سيمه کې د پاليسيو د ارزونې او بډاينې لپاره فعاليت کوي.
**اړیکه:**
ایمیل: csrskabul@gmail.com info@csrskabul.com
وب سایت: www.csrskabul.net - www.csrskabul.com
شمېره: +93780618000 +93780618000



Center for Strategic and Regional Studies (CSRS)